AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۹/۰۱/۰۷

# مطیع الله تراب،

## د ډکو زړونو چیغه

## (په پښتو اوسني شعر کې یو نوی باب)

## ۵

**زه د تراب شعرونه او د تراب غږ د افغانستان د خلکو د ډکو زړونو چیغه ګڼم.** (آصف بهاند)



«بند به تر څو د خپل تقدیر په ځنځیرونو پروت یم
زه به تر کومه ستا پر پښو او په لاسونو پروت یم

تـه بـه تـر کـومـه خپل ځـان حق ما به نا حق بـولې
زمـا اطـاعت بـه د خـپـل ځــــان مسلم حـق بـولې

چې د مظلوم ښېرې ګریوان ته تار او ستن پاتې دي
څو محدود کسه دي چې دې خاورې ته ژمن پاتې دي»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

تراب د جګړې د نسل هغه شاعر دی چې د اورونو له بټۍ راوتی دی او د شعر ژبه يې هم د اور په څېر تونده او سوځونکې ده، خو داسې مينه هم په کې نغښتې ده چې په اميدونو پورې نښتې ده، د وطن مينه او له خلکو سره مينه يو محروم، ځپل شوی او له هره اړخه تر فشار لاندې قوم د پوهولو او بيدارولو مينه.
د تراب ټول فکر، ذکر، قلم، ژبه او هر څه د خپل وطن حالاتو ته متوجه دي د افغاني ټولنې او په تېره د پښتنو د ژوند نيمګړتياوو ته يې خپل کلام وقف کړی دی. تراب په ګل، بلبل، هجران، معشوقه او نورو هغو مفاهيمو کې نه دی راګير لکه ځينې قلموالو او شاعرانو چې د خپلو تخليقاتو مخ وراړولی دی.
د تراب مخاطبين درې ډلې خلک دي:

ـ ټول ولس، چې دوی ته تراب د تاريخ په رڼا کې، په وطن کې د روانو حالاتو نيمګړتياوو ته په اشارې سره حقايق بيانوي،

ـ د ټولنې نوی نسل، چې تراب يې په حقايقو خبرول او راوېښول غواړي،

ـ د وطن او خلکو دوښمنان چې د وطن تاريخ، جغرافيه او هر څه يې ليلام ته وړاندې کړي دي.
هغه کسان يې مخاطبين دي چې د خپلو شخصي ګټو له پاره يې د وطن دوښمنانو ته مخه، خو وطن ته شا کړې ده. تراب هغوی ته وايي چې وطن د چا دی، څوک يې ساتنه او پالنه کوي او په پای کې به مختوري څوک وي.

د تراب په هر شعر کې تاريخي حقايقو ته په کتو سره ډېرو عمده ټولنيزو او سياسي نيمګړتياوو ته پام ساتل شوی دی او په خپل کوډګر قلم او هنر سره يې د تاريخ او سياست پند کتابونه په يوه توته شعر کې په هنري ژبې سره بيان کړي وي.
تراب څنګه چې په ټولنه او سياست کې روان عيني ترخه حقايق په سحرګره ژبه انځوروي، په هماغسې سحرګر انداز سره يې داسې وړاندې کوي چې په نيغه د خپلو اورېدونکو په زړونو کې ورننوزي او ځانته ځای پيدا کوي. دا د ده د کلام او د ده د پيام هغه قوت دی چې په نورو شاعرانو کې ډېر لږ ليدل کېږي.
په اوسنی پښتو شاعرۍ کې حماسي ـ تغزلي رنګ په ګډه ليدل کېږي، خو د تراب په شعر کې حماسي، وطني او تاريخي رنګ ډېر غالب دی.

د تراب په شعر کې تر انځورونو، پيامونه ډېر د پام وړ او قوي دي. او دا پيامونه په داسې آهنګينه ژبه وړاندې کېږي چې پرې پوهېدل او منل يې اسانه کوي.
د تراب په شعرونو کې د شعار غاړه ډېره هسکه ده او دا شعارونه کله، کله پر ټولو لوستونکو، اورېدونکو او ليدونکو په تېره پر ځوانانو باندې تر حد زيات اثر ښندي او ان تر دې چې کېدای شي چې ځينې ځوانان غير قانوني کړنو ته وهڅوي.
د تراب کمال په دې کې دی چې ډېر اوږده او ترخه عيني واقعيتونه په نظم يا يوه غزل او کله، کله په يوه يا دوو بيتونو کې بيانوي او تر ټولو ښه دا چې حللاره هم ورته ښيي.
له شعر نه د اوسنی زماني غوښتنه داسې ده چې:
په شعر کې بايد د ژوند، پرمختګ په باب خبرې وشي. ټولنيزو ستونزو ته د حل لار ونبودل شي. په شعر کې بايد د ژوند پيام نغښتی وي، نه د مرګ او تباهی. په شعر کې بايد د پرمختګ انساني پيامونه نغښتي وي، نه د وژلو او وينو تويولو، شاعر بايد د مينې او عاطفې استازی وي، نه د مرګ استازی. د شاعر په کلام کې بايد د ژوند هيلې سر را اوچت کړي، نه د مرينې.
او تراب هر کله دا کار کړی. د تراب کلام د ژوند زيری لري، ازغن به وي، خو د ازغيو په څنګ کې د حق ويلو او حق غوښتلو خواږه پيامونه هغه چا ته ورکوي چې په کلونو او عمرونو ـ عمرونو يې حق خوړل شوی او ورنه اخستل شوی.
تراب د يوه خاموش اکثريت داسې چيغه ده چې د هنر په جامه کې يې د دوست او دوښمن تر غوږو او سترګو رسولې ده، تراب په خپل شعر کې د حق غوښتنې بيرق جګ کړی دی.

کوم توري چې تراب په خپل شعر کې کاروي، دا هماغه توري دي چې له اميرکروړه تر نن پورې ټولو شاعرانو کارولي دي. هر شاعر د خپل فکر په چج او غلبيل کې ښکته پورته او لاندې باندې کړيدي او بيا يې د شعر په نامه څنګ په څنګه ايښي دي؛ خو د همدې تورو او کلماتو په کارولو او سره پېيلو کې تراب داسې هنر کارولی دی چې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولــئ

په زړونو او فکرونو باندې منګولې خښوي، زړونه خپلوي او ټول خلک، په تېره ځوانان داسې هڅوي چې وينه يې په ځوښ راولي او...
تراب په طبعي ډول د تورو او کلماتو په سره ځنګ په ځنګ اېښودلو کې داسې ځانګړی «منحصر به فرد» استعداد لري چې په بل چا کې تر اوسه نه دی ليدل شوی.

**ز ه د تراب شعرونه او د تراب غږ د افغانستان د خلکو د ډکو زړونو چيغه ګڼم.**

په پای کې د تراب يو څو انتخابي بيتونه:

**بند به تر څو د خپل تقدير په ځنځيرونو پروت يم**
**زه به تر کومه ستا پر پښو او په لاسونو پروت يم**

**ته به تر کومه خپل ځان حق ما به نا حق بولې**
**زما اطاعت به د خپل ځان مسلم حق بولې**

**چې د مظلوم ځېرې ګريوان ته تار او ستن پاتې دي**
**څو محدود کسه دي چې دې خاورې ته ژمن پاتې دي**

*****

**وير واويلا او غمرازي په پښتو ژبه کيږي**
**ميدان ګټل او سربازي په پښتو ژبه کيږي**

**پښتو څرخي پورې تړلې او د دار ژبه شوه**
**پښتو فقط د جوالي او څوکيدار ژبه شوه**

**تګ و راتګ او خوشحالي په بله ژبه کيږي**
**طب اقتصاد انجينري په بله ژبه کيږي**

**پښتو آخر هم د مجبور وزيريستان ژبه شوه**
**پښتو په لوی لاس د مولا او طالب جان ژبه شوه**

د پنځمې برخې پای





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ